مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست

۲۰۲۵/۱۲/۱۶

# له «آتشین» مخلوق سره نکاح



د ښاغلي مولوي حسام‌الدین حسام صیب، پر وال چې مې له پیرۍ سره د اخوا کوم پیر مبارک، د نکاح خبر ولوسته؛ نو موبایل مې راوویست او ترې و مې وپوښتل:

څو زوجې لرې؟

حسام صیب لکه چې له خپلې خونې غړیده، په لوړ ږغ یې وویل: لله الحمد یوه؛ خو... نور یې غږ دومره ورو شو چې اوریدل یې محال و.

ما ویل: دې (خو) کې دې خبره سته. دا تاسې ولې چې معمولي په ګېډه ماړه سئ، د دویمې، دریېمې او آن د څلورمې په فکر کې سئ؟

د دروازې ږغ سو، لکه چې له خپلې خونې ووت، ستونی یې تازه کړ او بیا یې اعوذ بالله او بسم الله وویل، له دې وروسته یې شروع وکړه:

**فَانكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاءِ مَثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ... ۖ**

نور غلی سو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ما ویل غلی کېږه مه، دا برخه یې هم تکمیل کړه:

**فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً**

بیا مې ورته ویل: اوس ربښتیا ووایه، څومره خلک دې لیدلي چې کما حقه، یې د ازواجو په منځ کې عدالت کړی وي؟ سړی غوسه شو:

کور دې د کوپارو او خاصتا د ساینس پوهانو ړنګ سي چې د انټرنیټ په اختراع یې علم دومره عام کئ چې تاسي مکتبیانو ته هم و رسیده. څومره ښه وخت و، فقط هغه څوک به له دین خبر ول چې موږ ته به یې مراجعه کوله.

ما ویل دا خبرې پرېږده، که دومره تکړه یې داسي څه اختراع کړه، چې انټرنیټ قطع شي او تاسي هم بې غمه سئ. په قهقه یې وخندل: بې حافظې عوامو، سړ کال مو څو ورځې څنګه بند کړی و، هېر مو سو؟

غلی شوم، بیرته اصلي خبرې ته را وګرځیدم:

ښه،

که دویمه یا درېیمه وکړې، له کورني مخالفت سره خو به مخ نسې؟ قربیان خو به دې خوابدي نسي؟ جنجال خو به ونکړي؟

له ځنډ وروسته یې وویل: یه، له حکمته کار اخم. دا ځل له جنیاتو سره نکاح کوم!

سخت وډار شوم، ما ویل جنیات او نکاح...؟

سړی غوسه سو: تاسي ګمراهان کله پر جنیاتو عقیده لرئ؟

ما ویل: استغفرالله، په قرآن عظیم الشان کي د جن په نوم سورت دی، سورت رحمان کي یې یادونه شوې: **" وَ خَلَقَ اَلْجَانَّ مِنْ مٰارِجٍ مِنْ نٰارٍ "**

په فلق سورت او ګنو نورو کې یې یادونه شوې. ولي به عقیده نلرم؟ خو په دې سورتونو کې مې له دې مخلوق سره د نکاح په اړه څه نه دي موندلي.

سړي، له لنډې وقفې وروسته وویل: یه، هسې د مسلمانانو چمونه مکوه!

ناهیلی شوم، ما ویل د تاسو یو مشکل دا هم دی چې پرته له ځانونو، نور خلک سم مسلمانان نه ګڼئ.

ښه،

فرض کړه له دې ناري (آتشین) مخلوق سره دې نکاح وکړه، نو د داسي ژوند به څه خوند وي؟ ژمي کې خو خیر، اوړ ښه لګیږي، ګرم اوړي کې به د اور له دې ټوټې سره څه کوې؟

دومره یې وخندل ما ویل که د پیریانو ټولي خسرګنی ونیوه.

بیا یې ویل: و ساده باده امې! پیری سره نکاح به هسي نوم وي، په دې به لومړی منکوحه غلطوم. چورت کې لاړم: ما ویل که رسوا سې؟

په خندا یې وویل: و ما خپلي زوجې ته پیری تعریف کړی:

**"الجنّ جسم ناریّ یتشکّل باشکال مختلفة"**

ور ته ویلي مې دي چې پیریان په مختلفو شکلونو ځان جوړوي، او پر ما یوه پیری مینه سوې، نو کیدای سي زما و خونې ته همدا مینه پیری د کومي زناني په شکل، راسي چې بیا بد ګوماني ونکړې، همدا به زما پیری، منکوحه وي!

نور یې ږغ داسي ورک سو لکه له کرکی چې ورته خپلې میینې پیری خندلي وي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ